DTM AFGHANISTAN

# د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه

## د پایلې لنډیز . لسم پړاو
## جنوري – جون ۲۰۲۰



بادغیس ولایت چې هم د جګړې له امله او هم د طبیعي آفاتو له امله ځپل شوی ۱۰٪ کورونه هلته یا په بشپړه توګه وران شوي یا هم په شدیده توګه ویجاړ شوي. د ارزونې څخه دمخه د شپږو میاشتو په ترڅ کې طبیعي پېښو لکه سیلابونه د ۱۲۴ وګړو مرګ ژوبله او د زراعتي محصولاتو او معیشت د له منځه وړلو لامل شوي. © IOM ۲۰۲۰.

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه (CBNA) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې (BMA) اساسي برخې په توګه په منظمه توګه په کال کې دوه ځله د کلیو په کچه ترسره کوي ترڅو په هغو کلیو کې چې تر ټولو زیاتو کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي له څو سکټوریزو اړتیاوو څخه چې د تغییر په حال کې دي یو هر اړخیز پوهاوی رامنځ ته شي.

## کلیدي موندنې

- مرستندویه موسسې باید هغه سیمې په پام کې ولري چې تر ټولو زیات د جاري جګړې (ډېری وخت شدیده جګړه) له امله زیانمنې شوي لکه په بلخ، کندهار، وردک، سرپل، هلمند او تخار ولایتونو کې. د پورتنیو ولایاتو د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا دا ولایات تر ټولو زیات نا امن دي او د شخړو او آفاتو له امله زیانمن شوي او تر ټولو زیاتې امنیتي او د مرګ ژوبلې پېښې هلته ثبت شوي. په دې ولایاتو کې ۸۸٪ ثبت شوې مرګ ژوبله د جګړو له امله ده.
- د بېکارۍ لوړه کچه، په افغانستان کې غیر رسمي دندې او په کرنې استوار اقتصاد او په خاصه توګه په ښاري سیمو کې د کورنیو بېځایه شویو، راستنېدونکو او نورو متحرکو ډلو شتون کاري فرصتونه محدودوي، په ځانګړې توګه په زیات نفوس لرونکو ښارونو کې لکه هرات، کابل او جلال آباد. د دې کار لپاره د وخت او فرصت په پام کې لرلو سره د لا زیاتو کاري فرصتونو رامنځ ته کولو پروګرامونو ته اړتیا لیدل کېږي ترڅو د کرنیزو پروګرامونو ارزښت او فرصتونو لوړولو باندې تمرکز وکړي. د کوویډ-۱۹ مشابه اعراض او علایم په ټول هېواد کې په لوړه کچه شتون لري چې دا په خپله د کوویډ-۱۹ لا زیاتو آزمایښتونو او د عفونت مخنیوي او کنټرول تګلارو زیاتولو ته اړتیا ښيي. د روغتیایي ظرفیتونو لوړولو ته په عمومي توګه اړتیا لیدل کېږي په خاصه توګه په هغو سیمو کې چې له پخوا د خدماتو له کموالي او بې حده زیات ګڼه ګوڼې سره مخ دي. د پام وړ اقلیت د ناروغ کېدلو پر مهال روغتیایي ځانګو ته مراجعه نه کوي چې دا په خپله د خلکو ترمنځ د باور پیاوړي کولو اړتیا ښيي.
- د وچکالۍ او سیلاب پر وړاندې زیانمن ولایاتو کې لکه غور، بادغیس، فراه، اورزګان او هلمند وګړي د خواړو د اخیستلو لپاره مارکېټ ته محدود لاسرسی لري او په خپله غنم کري. په یادو ولایاتو کې وګړي په بیلابېلو مقابله ای میکانیزمونو باندې اتکأ کوي لکه له هغو خوراکي توکو څخه ګټه اخیستل چې لږ مغذي مواد لري، د خوړو لپاره پور اخیستل، د خوړو د اندازې کمول او په غور، بادغیس او فراه ولایتونو کې وګړي په اوسطه توګه یو ځل په اونۍ کې په یوې خوراکي وعده کې له خوراک څخه ډډه کوي. د هېواد په کچه په اوسطه توګه ټولنې کورنۍ شاوخوا خپل نیمایي عاید د خوړو لپاره مصرفوي او له همدې امله دا کورنۍ د هغو وختونو لپاره چې د خوړو د لا زیات نا خوندیتوب سره مخ کېږي د خوراکي توکو د اخیستلو لپاره پیسې په لاس کې نلري.

## لنډه کتنه

**۳۴** ولایتونه وارزول شول

**۳۹۷** ولسوالۍ وارزول شوې (۷ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ نه وې او ۲ ولسوالیو کې کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو شتون نه درلوده)

**۱۲,۲۹۲** کلي له کورنیو بېځایه شویو او راستنېدوونکو کوربه توب کوي

**۶۲،۰۹۷**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳،۸۸۱،۹۰۳**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۴،۷۶۰،۴۷۸**
کورني بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۴،۹۴۷،۲۲۳**
وګړو د خپلو اصلي سیمې د کورنیو بېځایه شویو په توګه پرېښې [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۵،۴۸۰،۹۹۶**
پخواني کورني بېځایه شوي اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۲،۷۹۶،۴۳۲**
وګړي د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۱۴،۸۸۶،۲۵۶** (۷۱٪)
۱۸ کلن څخه لوی وګړي بیکار دي

**۳۹،۶۷۹ افغانۍ**
د کورنیو د پور اوسطه کچه

**۷,۵۴۶,۱۳۶** (۱۹٪)
وګړي روغتیایي خدماتو ته مراجعه نکوي

**۱۵,۵۸۴,۰۸۲** (۳۹٪)
وګړي د څښاک اوبو ته نیازمن دي

**۸,۳۲۸** (۶۸٪)
کلیو د ارزونې څخه مخکې ۶ میاشتو په ترڅ کې هېڅ ډول بشري یا پراختیایي مرستې نه دي ترلاسه کړي

**۱,۱۶۷,۵۰۷** (۳٪)
وګړي لږ تر لږه یو ډول زیانمنتیا یا معلولیت لري

**۲ څخه ۱** (۴۵٪)
یو وګړی یا په متوسطه توګه او یا هم په بشپړه توګه د عدالت پر سیستم باور لري

## تکلار

د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې (BMA) نهمې دورې را په دې خوا د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه (CBNA) هم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې یو سټندرد برخې په توګه شامله شوه. د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه (CBNA) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې سره یوشان تګلار څخه کار اخلي او هماغه ټولنې چې تر ټولو زیات کورنیو بېځایه شویو او راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي د پوښښ لاندې نیسي.

د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې (CBNA) عمومي موخه د پروګرامونو او خدماتو د لومړیتوب ورکولو لپاره بنسټیز معلومات راټولول او د جغرافیایي موقعیتونو پوښښ دی ترڅو د ټولنیز-اقتصادي شاخصونو خلاصه آمار وړاندې کړي لکه: دنده یا شغل، د کورنیو مالي وضعیت، مارکېټونه، امنیت او خوندیتوب، د قانون حاکمیت، روغتیا، زده کړه، خواړه او تغذیه، پناه ځای، اوبه، حفظ الصحه او روغتیا (WASH) او وړاندې شوې مرستې.

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې په شان د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې (CBNA) کې هم ساحوي کارکوونکي په لوړه کچه له هماغې سیمې څخه ګماري چې هلته ارزونه ترسره کېږي ترڅو کمیتي معلومات د کلیو په کچه د کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې راټول شي. د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې اوسنۍ فورمه په یو کلي کې له۲ تر ۳ ساعته وخت نیسي.

ساحوي کارکوونکي هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تېر کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

د کډوالۍ نړیوال سازمان او نړیوال بانک د همکارۍ له لارې به د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) او یاد بانک په منظمه توګه د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې (CBNA) لاسته راغلي معلومات په ګډه سره تجزیه او تحلیل کړي ترڅو د هېواد او ولایت په کچې عملي معلومات رامنځ ته شي او د ملي انکشافي پروګرامونو لومړیتوب ورکولو لپاره مرسته ترسره شي.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات د ټولنې مشرانو، کورنیو بېځایه شویو، راستنېدونکو، د ولسوالۍ مقام، د ټولنې پراختیایي شورا او د روغتیا او زده کړې سکټورونو له استازو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د بلواګرو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي.

**۶۲،۰۹۷**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴،۷۰۹**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم کورني بېځایه شوي (٪۸)

**۱،۳۶۲**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (٪۲)

**۱۹،۶۸۲**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (٪۳۱)

**۶۰،۷۳۵**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (٪۹۸)

**۱۲،۹۳۳**
خوسکتوریز او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (٪۲۱)

**۵**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۲۳،۲۲۲**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (٪۳۷)

## پوښښ

په لسمې دوره کې د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) وکولای شو ۶۲،۰۹۷ د ټولنې مشرانو سره په ۱۲،۲۹۲ د موخې وړ کلیو کې چې د کورنۍ بېځایه شویو او راستنېدونکو کوربه دي ترسره کړي. د دې ارزونې پوښښ د بنسټیزې ارزونې پوښښ څخه ۴۳ کلي لږ دی ځکه چې د نا امنۍ له امله ساحوي کارکوونکو ونشو کولای په یاد کلیو کې د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې معلومات راټول کړي او یاد کلي په لاندې ولایاتو کې ول: فراه (۱)، هرات (۱)، جوزجان (۱)، کندز (۱)، لوګر (۳۸) او پنجشیر (۱).

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې او د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې ترڅنګ د کووېډ-۱۹ پر وړاندې غبرګون کې یې هم ونډه درلوده او د کووېډ-۱۹ اړوند د ټولنو وګړو د مشارکت او د خطرونو په اړه د پوهاوي رامنځ ته کولو لپاره یې د ټولنې مشران هڅول ترڅو د عفونت د مخنیوي او کنټرول تګلارې پلي شي او د کلیو په کچه د کووېډ-۱۹ اړوند نا سم معلومات او پېغورونه/ شرم پر وړاندې مقابله وشي.


د کووېډ-۱۹ د خپرېدو څخه د مخنیوي لپاره او د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د کارکوونکو، کډوالو جمعیتونو او کوربه ټولنې د خوندیتوب لپاره د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د عفونت د مخنیوي او کنټرول تګلارې عملي کولې او د روغتیا نړیوال سازمان د لارښودنو سره سم یې شخصي محافظتي توکي کارول.

| ولایت | د وروستۍ ارزونې نېټه | ولسوالۍ | ارزول شوې ولسوالۍ | ارزول شوي کلي | کلیدي معلومات ورکوونکي چې ورسره مرکه شوې |
|---|---|---|---|---|---|
| اورزګان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۶ | ۹۸ | ۴۷۳ |
| بادغیس | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۶ | ۲۷۳ | ۱٬۵۸۲ |
| بامیان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۱۸۴ | ۱٬۱۵۹ |
| بدخشان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۲۸ | ۲۸ | ۸۴۵ | ۵٬۰۶۹ |
| بغلان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۵ | ۱۵ | ۵۶۲ | ۲٬۵۶۹ |
| بلخ | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۶ | ۱۶ | ۶۳۵ | ۲٬۷۵۶ |
| پروان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۳۹۴ | ۲٬۰۷۳ |
| پکتیا | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۱ | ۱۱ | ۴۱۰ | ۱٬۷۲۲ |
| پکتیکا | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۹ | ۱۹ | ۲۷۹ | ۹۴۳ |
| پنجشېر | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۹۹ | ۵۲۸ |
| تخار | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۷ | ۱۷ | ۵۴۰ | ۳٬۳۶۷ |
| جوزجان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۱ | ۱۱ | ۳۳۰ | ۱٬۸۵۱ |
| خوست | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۳ | ۱۳ | ۵۸۵ | ۲٬۷۷۶ |
| دایکندي | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۹ | ۹ | ۲۰۰ | ۱٬۱۵۳ |
| زابل | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۱ | ۱۱ | ۳۸۸ | ۲٬۲۶۷ |
| سرپل | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۲۷۹ | ۱٬۹۲۵ |
| سمنګان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۲۲۰ | ۱٬۲۱۲ |
| غزني | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۹ | ۱۹ | ۳۸۶ | ۱٬۵۱۸ |
| غور | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۲۷۱ | ۱٬۳۰۷ |
| فاریاب | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۴ | ۱۳ | ۲۸۲ | ۱٬۳۸۷ |
| فراه | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۱ | ۱۱ | ۳۸۳ | ۱٬۹۵۷ |
| کابل | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۵ | ۱۵ | ۵۴۴ | ۲٬۲۶۵ |
| کاپیسا | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۱۶۵ | ۷۹۴ |
| کندز | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۳۱۵ | ۱٬۷۲۶ |
| کندهار | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۶ | ۱۶ | ۳۹۴ | ۱٬۷۴۴ |
| کنر | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۵ | ۱۵ | ۳۶۳ | ۲٬۰۸۶ |
| لغمان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵ | ۵ | ۲۱۳ | ۱٬۱۲۵ |
| لوګر | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷ | ۷ | ۳۳۱ | ۱٬۲۵۰ |
| ننګرهار | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۲۲ | ۲۲ | ۹۱۱ | ۴٬۳۲۸ |
| نورستان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۸ | ۸ | ۴۷ | ۲۰۸ |
| نیمروز | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵ | ۵ | ۲۸۷ | ۱٬۵۱۵ |
| هرات | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۶ | ۱۵ | ۵۷۱ | ۲٬۸۶۱ |
| هلمند | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۳ | ۱۳ | ۲۹۱ | ۱٬۳۰۰ |
| وردک | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۹ | ۹ | ۲۱۷ | ۱٬۳۰۱ |
| مجموعه | | ۴۰۱ | ۳۹۷ | ۱۲،۲۹۲ | ۶۲،۰۹۷ |

# جمعیتي معلومات


د کلیدي معلوماتو ورکوونکو په وینا د مرګ ژوبلې شمېر په هغو ولایاتو کې تر ټولو لوړ ده چې پراخه ښاري ساحه لري او همدا رنګه هغه ولایات چې د جاري یا فعالې جګړې له امله اغېزمن دي. جګړه، کورونو ته لاسرسی او طبیعي آفات هغه اصلي لاملونه دي چې خلک له نورو ځاینونو نه (په لوړه کچه د کورنیو بېځایه شویو په توګه) کوربه ټولنو ته راځي. خدماتو ته لاسرسی لکه دنده، زده کړه، شخړه او روغتیایي پاملرنه تر ټولو اړین لاملونه دي چې وګړي خپل اصلي ځای پرېږدي او نورو ځاینونو ته کډه کوي او دا کار تر ټولو زیات په وردک، سمنګان، پکتیکا او تخار ولایاتو کې تر ټولو زیات ثبت شوی.

مرګ ژوبله | د ولایت او عمر پر بنسټ





د تذکره درلودلو تر ټولو لوړ شمېر په هغو ولایاتو کې ثبت شوی چې د دولت د کنټرول لاندې دي او تر ټولو ټیټ شمېر یې په لرې پرتو او له شخړې څخه زیانمنو ولایاتو کې ثبت شوی. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو په وینا تر ټولو زیات شمېر زیانمن کسان په هغو ولایاتو کې اوسېږي چې پراخ ښاري مرکزونه لري لکه کابل، ننګرهار او بلخ.


تذکره | د ولایت پر بنسټ





یوې میاشتې څخه زیاتې مودې لپاره د راتګ او اسکان لاملونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي
ارزښت (شمیر=۱۰٬۳۷۶) ۰= د پلي کېدو ور نه ؛ ۱= ډېر بې ارزښته؛ ۲= بې ارزښته؛ ۳= لږ ارزښتناک؛ ۴= ارزښتناک؛ ۵= ډېر ارزښتناک




زیانمنتیا




د یوې میاشتې څخه زیاتې مودې لپاره د سیمې پرېښودلو لاملونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي
ارزښت (شمیر=۱۰٬۵۷۰) ۰= د پلي کېدو ور نه ؛ ۱= ډېر بې ارزښته؛ ۲= بې ارزښته؛ ۳= لږ ارزښتناک؛ ۴= ارزښتناک؛ ۵= ډېر ارزښتناک







دې ماشوم په شان چې په بامیان ولایت کې کار کوي په ټول افغانستان کې ۱۰۲٬۳۳۲ کورنیو څخه ماشومان مشري کوي او د عاید د ترلاسه کولو لپاره کار کولو ته اړ دي چې له دې کار سره د دوی د زده کړې او ښه راتلونکي فرصت محدودېږي. IOM ۲۰۲۰ ©

# دنده يا شغل


په ټول هيواد کې ٧١٪ له ١٨ کلن څخه لوی ټول وګړي او ٥٠٪ له ١٨ کلن څخه لوی نارينه ګان بيکار دي. هغه ولايات چې د بېکارۍ ټيټ شمېر لري لرې پراته، کليوالي او نسبتاً کم نفوس لرونکي ولايات دي لکه نورستان او دايکندي. لامل يې ښايي د دې ولاياتو کم نفوس، او د غير ميکانيزه کرنيز اقتصاد لپاره يې کارګرو ته زياته اړتيا وي. د لغمان، لوګر، پکتيا او کنړ ولاياتو په شان ولايات د بيکارۍ لوړ شمېر لري.

د بېکارۍ ارقام (+١٨) | د ولايت او جنسيت پر بنسټ





د افغانستان د کار بازار کې په مشخصه توګه ورځني کارونو او په غير رسمي سکتور کې کار کول شاملېږي. په هرات، هلمند، زابل او پکتيکا ولاياتو کې چې يا تر ټولو زيات کورني بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي او يا هم جګړه ځپلي دي يوازې ١٪ وګړي په رسمي سکتور کې کار کوي. دا چې له پخوا کاري تجربې درلودل او له صاحب د کار سره پخوانۍ اړيکې درلودل د هيواد په کچه د دندې ترلاسه کولو لپاره لومړيتوبونه بلل کېږي دا موارد په هغو ولاياتو کې زيات ثبت شوي ول چې پراخې ښاري سيمې لري. له ٣۴ ولايتو په ٣٢ ولاياتو کې د دندې ترلاسه کولو لپاره تر ټولو لوړ خنډ د کاري فرصتونو کم والی بلل شوی.


د قراردادونو ډول





د کارکوونکو د استخدام لپاره د ترجيح ورکولو موارد | د اهميت پر بنسټ رتبه بندي شوي





د کار يا دندې پر وړاندې خنډونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي




د حرفه ای زده کړو پروګرامونو شتون





شغلي وضعيت | نارينه ګان (له ١٨ کلونو لوی)





# مالي او دارايي


له ۸٪ څخه لږ شمېر افغانان په تولیدي او خدماتي اقتصادي سکټورونو کې په کار کولو بوخت دي چې دا په خپله د افغانستان اتکأ پر کرهنیز یا زراعتي سکټور ښيي. د کورنیو اوسط عاید کچه په کندز، کابل او پکتیکا کې تر ټولو لوړه ده چې سرحدي سوداګرۍ ته لاسرسی او په غیر رسمي اقتصاد کې شمولیت په دې اړه د پام وړ دي. لړښتونه یا مصارف په جنګ ځپلي ولایاتو کې لکه اورزګان، کندز او خوست کې تر ټولو لوړ دي. په بیلابېلو سیمو کې د عاید اوسطې کچې ترمنځ تر ټولو زیات توپیر په اورزګان ولایت او ورپسې وردک کې لیدل کېږي. د ۴۸٪ کورنیو خالص عاید د خواړو په اخیستلو کې مصرفېږي او دا لوړ لګښتونه تر ټولو زیات په لرې پرتو ولایاتو کې لکه پنجشیر (۷۳٪) او نیمروز (۶۸٪) کې ثبت شوي خو بیا په کابل (۲۹٪) کې تر ټولو ټیټ وه.

کلیدي معلومات ورکوونکو یادونه وکړه چې له ۲ میلیون څخه زیاتې کورنۍ پورورې دي او د پور اوسط کچه یې ۳۹،۶۷۹ افغانۍ ویلی دی. پور یو له اصلي لاملونو څخه دی چې وګړي د کډوالۍ (هم د هېواد دننه او هم هېواد څخه د باندې) پرېکړه کوي. د پور تر ټولو لوړه اوسطه کچه په لرې پرتو او هغو ولایاتو کې لیدل کېږي چې پراخه کلیوالي سیمه لري لکه دایکندی، بامیان او غزني چې په هېواد کې تر ټولو زیات بې وځله یا فقیر ولایات ګڼل کېږي.







# مارکېټونه


د هـواد پـه کچـه ټولنـې پـه اوسـطه توګه عموماً وړو هټيـو او د سـرک غـاړي لاس ګاډي ته لاسرسـی لـري. د ېبځايـه کېدوونکـو د تعقيب سيسـتم مارکېټ تـه د لاسرسي اړونـد د بيلابيلو ولايـاتو تـر منځ توپيرونـه وموندل. پکتيکا، سـمنګان، کابـل او جوزجان مارکېټونو تـه تر ټولو نـورو ولاياتو زيـات لاسرسـی لـري ځکـه چې دا ولايـات يا لويـو سرحـدي موقعيتونـو سره او يـا هـم د ښـار مرکزونـو سره ارتبـاط لـري. پـه لږ پرتـو ولاياتو کې لکه نيمـروز، غـور، پکتيا، کنـدز او بغلان کې مارکېټونـو ته لاسرسـی تـر ټولو نورو ولاياتو لږ دی. مارکېټ تـه د مېرمنو لاسرسي پـه پنجشېر، لغـمان، فارياب او بلـخ ولاياتو کـې تر ټولو نـورو ولاياتو زياتـه ده او په نـا امنـو او دوداېـزو ولايتـو کـې لکـه نورسـتان، اورزګان او زابـل کې تر ټـول لږ ده.

بـوره، غـوړي، وريجـې او اوړه عموماً د لاسرسي وړ دي خـو ترکاري، غوښـه، د چرګ غوښـه او هګـۍ يـوازې ځينـې وخـت د لاسرسي وړ دي. د غوړيـو، وريجـو او اوړو بيـه د کليو د ارزونې شـپږ مياشـتې مخکـې پـه نـرخ کـې تقريباً په ټولـو ولاياتو کې زياته شـوې. که څه هـم د تيل/ ګاز بيـه پـه ۲۵٪ ارزول شـويو کليـو کې راټيټه شـوې وه چې شـايي لامل يې کوويډ-۱۹ وي.


مارکېټونو ته لاسرسی | د ولايت او مارکېټونو ډول پر اساس




مارکېټونو ته د مېرمنو لاسرسی | د ولايت پر بنسټ





ارزاقي/ اوليه مواد | د لاسرسی پر بنسټ رتبه بندي شوی




د اوليه/ ارزاقي توکو بيه په کيلومتر/ ليتر




د تېرو درې مياشتو په نرخ کې د ارزاقي يا اوليه توکو په بيه کې بدلون








په ډېرېو ټولنو کې ورې هټۍ لکه دا هټۍ چې په فارياب ولايت کې ده د اصلي مارکېټ په توګه د توکو د پلورلو او پېرودلو لپاره کارول کېږي. دا ډول سوداګريزې سيمې د کوويډ-۱۹ د خطرونو په هکله د پوهاوي پيغامونو او موادو د ويشلو لپاره ډېر مناسبې دي. IOM © ۲۰۲۰


# امنیت او خوندیتوب

له ارزونې څخه تېرو ۶ میاشتو په ترڅ کې ۶۳٪ راپور شوې امنیتي پېښې سر بېره پر ۸۸٪ مرګ ژوبلې د وسله والو جګړو (۶۷٪) او ورپسې اخاذي، (۱۵٪) او ساده منفجره توکو (۱۰٪) له امله رامنځ ته شوي. د تېرې دورې د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې څخه راټول شویو معلوماتو پر وړاندې چې وچکالۍ تر ټولو عامه طبیعي پېښه ثبت شوې وه په دې دوره کې شدید باد او بارانونه (۳۹٪) او په تعقیب اې سیلابونه (۳۳٪) او د ژمي بې حده سړه هوا او د واورې اورښت (۱۸٪) تر ټولو عامې طبیعي پېښې ثبت شوي دي. لکه څرنګه چې ډېرى طبیعي پېښې او مرګ ژوبلې د ښځو یا نښتو له امله رامنځ ته کېږي د دې راپور موخه دا ده چې د بشري خدماتو وړاندې کوونکي وهڅوي ترڅو هغه ولایات، ولسوالۍ او کلي د پوښښ لاندې ونیسي چې د جګړو له امله زیانمن دي او بالاخره د بېځایه کېدو لامل ګرځي.






ځینې ولایات لکه نیمروز چې زیانمنتیا یې په پورتني انځور کې ښوودل شوې د دوراني طبیعي آفاتو لکه وچکالۍ او سیلاب پر وړاندې بې حده زیانمن دي او په پایله کې خاوره، لږ او ځای ځای بوټي او محیط نشي کولای به کافي اندازه اوبه وساتي. © IOM ۲۰۲۰


# ټولنیز پیوستون

د ټولو کلیدي معلومات ورکوونکو څخه تقریباً نیمایي (۴۵٪) یې د عدالت پر سیستم اعتبار درلود چې دا نظر له یو ولایت څخه بل ولایت پورې د جګړې له امله زیاتمنتیا پورې اړه درلوده. پنجشیر، دایکندي او پروان چې د پیښو او مرګ ژوبلې تر ټولو ټیټ شمېر یې درلوده په عدالت سیستم باندې یې د اعتبار تر ټولو لوړ شمېر یې درلود. جنګ ځپلي ولایاتو کې لکه اورزګان، غور او پکتیکا کې وګړو په عدالت سیستم باندې تر ټولو لږ اعتبار درلوده. په ۶۰٪ ارزول شویو کلیو کې وګړو د کور څخه د باندې فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د خوندیتوب احساس نه درلوده چې دا کار په خپله د وګړو تحرک محدودوي او خدماتو ته د لاسرسي نه درلودلو لامل ګرځي، په خاصه توګه مېرمنې په نا متناسبه توګه له دې کار څخه زیانمنې کېږي.


په هغه ځایونو کې چې د ټولنې د وګړو ترمنځ بې باوري رامنځ ته کېږي، ډېری وخت د کورنیو بېځایه شویو، راستنېدونکو او د کوربه ټولنې غړو او همدا راز د بزګرو او شپانو ترمنځ ثبت شوي. دا بې باوري او نښتې ډېری وخت ځینې سرچینو ته لکه ځمکه، اوبه او کار یا هم تاریخي موضوعاتو اړوند لاسرسي پورې ارتباط لري. ۶۹٪ کلیدي معلومات ورکوونکو ذکر کړ چې دا ډول نښتې ډېری وخت فزیکي شخړو ته اوړي.

د کلیو دننه نښتې ډېری وخت د سیمې وګړو منځګړیتوب (۶۰٪) او یا هم د کورنیو د منځګړیتوب (۱۸٪) له لارې حل کېږي. له ۲٪ څخه لږ شمېر کلیدي معلومات ورکوونکو یادونه وکړه چې د هغوی په تولنو کې نښتې هېڅ نه حل کېږي.


د کور څخه د باندې په ورځني فعالیتونو کې د امنیت احساس درلودل





په ټولنه کې د عدالت سیستم باندې باور | د ولایت پر بنسټ




د شخړو د حل لپاره منځګړیتوب | د ولایت پر بنسټ




بې باوري/ د بېلابېلو ډلو تر منځ بې باوري | شمېر=۱۲,۲۹۲







د ټولنو شورا ګانې لکه د کلي د مشرانو دا ډله چې بلخ ولایت کې ده ډېری وخت د کلیو ترمنځ یا په خپله کلیو کې د نښتو او مخالفتونو د حل او فصل لپاره منځګړیتوب کوي. © IOM ۲۰۲۰

# روغتیا


د ارزونې پایلې ښیي چې د کووېډ-۱۹ په شان اعراض او علایم لکه تبه (۲۴٪ واقعات)، تنفسي عفونت (۲۴٪ واقعات) او اوبلن نس ناستی (۲۳٪ واقعات) په لوړه کچه راپور شوي دي چې دا په خپله د عفونت د مخنیوي او کنټرول لپاره د ټولنې پر بنسټ تګلارو ته اړتیا ښیي. یوازې په ۲۳٪ ارزول شویو کلیو کې کلینیک شتون لري خو په بیلابیلو ولایاتو کې توپیرونه شته. په کندهار ولایت کې تر ټولو نږدې روغتیایي مرکز په اوسط توګه ۲۳ کیلومتره واټن لري چې تر ټولو نورو ولایاتو شدید وضعیت کې دی او هلته اساسي روغتیایي پاملرنو ته لاسرسی ډېر ستونزمن دی.

له نیمایي څخه زیات د روغتیایي خدماتو وړاندې کوونکي اولیه مرستې، د درملو خدمات، د غیر بستري ناروغانو خدمات او معافیت یا واکسین خدمات وړاندې کوي. که څه هم ۱۹٪ سروې شوي وګړي تر ټولو نږدې روغتیایي کلینیکونو ته د ناروغۍ په وخت کې مراجعه نه کوي چې په کسانو سلنه په جوزجان کې ۴۳٪ او سرپل کې ۳۹٪ ده او دېرې وخت د درملو د خراب کیفیت او د کارکوونکو ضعف یې لامل بلل کېږي. د ښځینه روغتیایي کارکوونکو کموالی د روغتیایي خدماتو د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو لوی خنډ بلل کېږي.

روغتیایي ستونزې او ناروغۍ





د روغتیایي ځانګو خدمات | د خدماتو ډول پر بنسټ





کلینیکونو ته لاسرسی | د ولایت پر بنسټ




هغه وګړي چې تر ټولو نږدې روغتیایي ځانګې ته مراجعه نکوي | د ولایت پر بنسټ





د روغتیایي تسهیلاتو شمېر او ډول




تر ټولو نږې روغتیایي ځانګې څخه د ګټې نه اخیستلو لاملونه | د ارزښت پر بنسټ

ارزښت (شمېر=۶٬۵۹۲) ۰ = د پلي کېدو وړ نده; ۱ =ډېر بې ارزښته, ۲= بې ارزښته, ۳= لږ مهم, ۴= مهم, ۵ =ډېر ارزښتناک




# تحصیلات

روغتیایي ځانګو ته د لاسرسي په شان ښوونځیو ته لاسرسی هم په بېلابېل ولایاتو کې توپیر لري. که څه هم زیات نفوس لرونکي ښاري سیمو کې په ډېر احتمال روزنیزې ځانګې شتون لري. د سیمو زیات نفوس د دې لامل کېږي چې په هرو روزنیزې وداني کې لوړ شمېر زده کوونکي په سبق بوخت وي. هلمند ولایت په اوسطه توګه د هر ۳،۷۸۰ د ښوونځی عمر لرونکي ماشوم لپاره یوازې یو ښوونځی لري که څه هم نیمروز ولایت کې تر ټولو ښه پوښښ ده ځکه چې هلته د هر ۳۲۵ ماشوم لپاره یوه ښوونځی شتون لري. د هغو ماشومانو شمېر چې ښوونځیو ته نه ځي په کندهار، ننګرهار او هلمند ولایاتو کې تر ټولو نورو ولایاتو لوړ دی.


د لوړو زده کړو په کچه روزنې لکه حرفه ای یا تخنیکي روزنې، د سواد زده کړې یا لیک لوست روزنه او پوهنتونونه په ښاري سیمو کې، په خاصه توګه کابل کې تر نور ځایونو زیات دي.

دا په خپله د بې وځلو کورنیو لخوا زده کړې ته غوښتنه نه کېدل او په روزنیزو ځانګو کې د درسي موادو نشتون ته اشاره کوي. د زده کړې پر وړاندې تر ټولو لوی خنډونه دا دي چې یا ماشومان مجبور دي کار وکړي ترڅو له خپلو کورنیو څخه ملاتړ وکړي او کولای شي یا دا چې ښوونځی لرې دي یا کورنۍ د ښوونځی ته تګ اجازه نه ورکوي او یا هم دا چې ماشومان مجبور دي د خپلې کورنۍ د پاملرنې لپاره ښوونځی ته ولاړ نشي.


موجودي تحصیلي ځانګې





تحصیلات | د ولایت پر بنسټ





د هغو ماشومانو شمېر چې ښوونځی ته نه ځي | د ولایت پر بنسټ




د زده کړې پر وړاندې خنډونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي




په تېرو شپږو میاشتو کې د هغو ورځو اوسط شمېر چې ښوونځی تړلې/ورانې/ نیول شوې وې | شمېر= ١,٥٦١




# غذا و تغذیه

لکه څرنګه چې د ۲۰۱۸ کال وچکالۍ په ترڅ کې مو تجربه کړل د جګړو او طبیعي آفاتو پر وړاندې د افغانستان زیانمنتیا ډېرې وخت د خوړو د نا خوندیتوب لامل کېږي. په پایله کې د خوړو کموالی او غذایي تنوع کموالی منځ ته راځي. غلجات، غوړي/ کوچ او بوره هره ورځ مصرفېږي. غوښه او میوه جات چې د پروتین او مغذي موادو سرچینې دي په اوسطه توګه په اونۍ کې یو ځل په مصرف رسېږي. سبزیجات او حبوبات په اونۍ کې دوه ځله په مصرف رسېږي.


غنم چې د وچې ډوډۍ اساسي ماده ده او هره ورځ خوړل کېږي ډېرې وخت په محلي مارکېټونو کې اخیستل کېږي (۳۸٪) یا هم په شخصي ځمکه کې کرل کېږي (۳۵٪). غور او په تعقیب اې بادغیس، فراه، ارزګان او هلمند هغه ولایات دي چې وګړي د غنمو پېرودلو پر ځای د غنمو په کرلو زیات اتکأ کوي او دا ولایات د فصلي وچکالي او سیلابونو پر وړاندې تر ټولو زیانمن دي. د زراعتي موادو نشتون لکه تخم، کیمیاوي مواد، کرنیزه ځمکه، وسایل، اوبه او ځینې نور مسایل لکه بې وځلي او جګړې په خاصه توګه په وردک، فراه، پروان او دایکندي ولایاتو کې د خوړو تولید محدود کړی.

د خوراکي توکو کموالي له امله کورنۍ ډېرې وخت په منفي مقابله ای میکانیزمونو باندې اتکا کوي. تر ټول عام مقابله ای میکانیزم په هغو خوراکي توکو اتکا کول ویل شوي چې په عمومي توګه د خوښې وړ ندي. د خوړو پور اخیستل تر ټولو زیات په کنړ او ورسوته بیا په ننګرهار ولایت کې په ثبت رسېدلي دي. په یوې غذایي وعده کې له خوراک څخه ډډه کول تر ټولو شدید مقابله ای میکانیزم دی چې ثبت شوی او تر ټولو زیاتې کورنۍ په سمنګان او تخار ولایاتو کې پر دې میکانیزم اتکأ کوي.

د غنمو/اوړو/ وچې ډوډۍ د لاسته راوړلو لارې | د ولایت پر بنسټ





د خوراکي توکو د تولید پر وړاندې خنډونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي







که څه هم د هېواد اقتصاد په کرنې استوار ده د غنمو د اړتیاوو پوره کولو لپاره اوس هم په وارداتو اتکأ کېږي. لکه څرنګه چې د لغمان ولایت په پورتنې انځور کې لیدل کېږي ټمه کېږي چې په ۲۰۲۰ کال کې به د غنمو حاصلات عادي حالت ته واوړي. © IOM ۲۰۲۰


په ورځ کې د خوړو خوراک ځل | د سني او جنسیتي ډلو پر بنسټ




غذایی تنوع | په اونۍ کې د هر ډول خوارو مصرف کول




د خوارو اړوند مقابلې میکانیزم





# سرپناه


په ټول هېواد کې ٪۸۳ کورنۍ په ختینو کورونو کې اوسېږي چې دا کورونه ډېري وخت د طبیعي آفتونو پر وړاندې مقاومت نلري. د ټول هېواد نفوس څخه له ٪۱ کم وګړي چې عموماً کورني بېځایه شوي دي په خیمه یا آزاده فضأ کې ژوند کوي. دا کورني بېځایه شوي په لوړه کچه په جګړه ځپلو ولایاتو کې لکه کندهار، بادغیس او اورزګان کې اوسېږي. په یادو ولایاتو کې په ترتیب سره ٪۱۰، ٪۶ او ٪۳ کورنۍ یا په خیمه او یا هم آزاده فضأ کې ژوند کوي.


د پام وړ شمېر کورنۍ په پروان (٪۳۸)، سرپل (٪۳۷) وردک (٪۳۳)، فراه (٪۲۳) و اورزګان (٪۲۱) ولایاتو کې په شدیده توګه د جګړې او طبیعي پېښو له امله زیانمن شوي او په داسې کورونو کې اوسېږي چې یا په بشپړه توګه وران شوي او یا هم په شدیده توګه ویجاړ شوي.

د زیانمنو کورونو سربېره د کورونو د کرایې لوړه بیه هم یو له اړینو مواردو څخه ده چې له امله اې زیات شمېر کورنۍ کورونو یا پناه ځای ته لاسرسی نلري. د ارزونې څخه ۶ میاشتو مخکې په ترڅ کې ٪۴۷ کورنۍ په وردک، ٪۴۳ په کندهار او ٪۴۲ په پروان ولایت کې نشو کولای چې د خپل د کور کرایه ورکړي.






لکه دا کور چي په فاریاب ولایت کې په مرمیو لګېدلی ٪۱۲ کورونه یا په بشپړه توګه وران شوي او یا هم په شدیده توګه زیانمن شوي. © IOM ۲۰۲۰

# اوبه حفظ الصحه او روغتیایي اقدامات


له هر دریو کورنیو څخه له یوې څخه زیاتې کورنۍ کې د څښاک او زراعت لپاره اوبو کموالی راپور شوی. هغه ولایت چې د څښاک اوبو تر ټولو زیات کموالي سره مخ دی هغه زابل ولایت دی او د دې ولایت ۷۰٪ نفوس د څښاک اوبو ته کافي لاسرسی نلري. هغه ولایات چې د بېلابېلو مقاصدو لپاره د اوبو کموالي سره مخ دي عبارت دي له پکتیکا، زابل، نیمروز او پروان ولایاتونه چې هلته د کلیو مشرانو د بېلابېلو موخو لپاره د اوبو کموالی ذکر کړ.

۷۰٪ وګړي خوندي بیت الخلا ته لاسرسی نلري. په نورستان (۱۰۰٪)، خوست (۹۸٪) او پروان (۹۶٪) کې حفظ الصحوي تسهیلاتو یا آسانتیاوو ته تر ټولو زیاتې اړتیاوې لیدل کېږي. له هر ۴ کسانو څخه ۱ کس په آزاده فضا کې رفع حاجت کوي. د هغه کسانو له ډلې چې حفظ الصحوي ودانیو یا بیت الخلا ته لاسرسی لري نیمایي یې له کناراب څخه کار اخلي.


د څښاک اوبو سرچینې | د کټه اخیستنې پر بنسټ





د اوبو اړوند ستونزې | د کلیو شمېر پر اساس





د اوبو سرچینو ته نیازمن وګړي | د ولایت پر بنسټ




د بیت الخلا ډولونه | د ولایت پر بنسټ





هغه کورنۍ چې خوندي او حفظ الصحوي بیت الخلا ته لاسرسی نلري | د ولایت پر بنسټ



# رفاهي خدمات


۹۰٪ کورنیو د کور د ګرمولو سرچینو په توګه لرګي/ د لرګیو سکاره یا خوشایي/ کثافات یا د مړو څارویو او بوټو د بدن غړي څوځول ویلي. که څه هم ۲۵٪ کورنۍ ملي یا منطقوي برق ته لاسرسی لري او ۱۰٪ کورنۍ له مشترک سولر یا لمریزې انرژي څخه ګټه اخلي، په خاصه توګه پکتیکا (۱۰۰٪)، دایکندي (۹۵٪) او وردک (۹۰٪). ارزول شویو کلیو راپور ورکړ چې د برق پرچوي په اوسطه توګه ۱۱ ورځې په میاشت کې او په ورځ کې یو ساعت څخه زیات دی.


که څه هم ۷۴٪ کورنۍ موبایل لري، ۲۳٪ وګړو راپور ورکړ چې په خپلو کلیو کې د موبایل آنتن یا شبکې ته اې لاسرسی نه درلوده. په نورستان ولایت کې مخابراتي آنتن یا شبکې ته لاسرسی تر ټولو خراب دی او هلته ۷۳٪ کورنۍ د ټیلیفون شبکې یا آنتن ته هېڅ لاسرسی نلري او هېڅوک په دې ولایت کې انټرنټ ته لاسرسی نلري.







د څارویو خوشایي چې ډېرۍ وخت په هغو ولایاتو کې چې پراخه کلیوالي سیمه لري لکه بغلان کې تري ګټه اخیستل کېږي، د ټول هېواد په کچه ۴۱٪ نفوس یې د څوځولو سرچینې په توګه کاروي. © IOM ۲۰۲۰








# مرستې

۳۰٪ ارزول شویو کلیو څرګنده کړه چې د ارزونې څخه مخکې ۶ میاشتو م په ترڅ کې یې مرستې ترلاسه کړې وې. مرستې ډېری وخت د خوړو وېشل (۳۲٪)، بنسټیزې یا زیربنایي پاکونې (۱۲٪) او کرنیزې پروژې (۱۱٪) ویل شوې دي. په دایکندي، زابل، غزني او اروزګان ولایاتو کې له ۹۰٪ څخه زیاتو ټولنو راپور ورکړ چې هیڅ مرستې یې ندي ترلاسه کړې.




© ۲۰۲۰ د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)


د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د نقشو، ډیټاسټ او ډاشبوردونو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan ته مراجعه وکړئ.

مونږ سره په اړیکه کې شئ


facebook.com/iomafghanistan
DTMAfghanistan@iom.int
instagram.com/iomafghanistan
twitter.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي:


د اروپا اتحادیه کړه بودجه په وسیله تمویل شوی





۴ لومړنۍ عايداتي سرچينې او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





د لویانو د بیکاري کچه او تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





مارکېټونوته لاسرسی نه درلودل او تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ




د ولسوالۍ پر بنسټ د جګړو اروند پېښې او مرګ ژوبله





د ۲ ساعتو په واټن کې کلینیک ته لاسرسی نه درلودل او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





هغه ماشومان چې ښوونځي ته نه ځي او تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





د غنمو نا کافي محصولات او او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ




د کور د کرایه ورکولو توان نه درلودل او تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ



د کاڼي حفظ الصحي نشتون او تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ




د ټلیفون یا د ټیلیفون د شبکې یا آنتن نشتون او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ